# بسم الله الرحمن الرحيم

# د حميد بابا په اشعارو کې د ماهيت په لحاظ تشبيه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د لوړو زده کړو وزارت
# د کابل د ښوونې او روزنې پوهنتون
# ژبو او ادبیاتو پوهنځی
# پښتو څانګه

څېړونکی: رفیع الله (ستانګزی)

1385 لمریز کال

د انټرنېټ په مخ ترتیب او ډیزاین کوونکې :سمسور حبیبي

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرليکونه                                                    مخکڼه


۱- سریزه

۲- د حمید بابا ژوند لیک

۳- د حمید مومند سبک

۴- د حمید مومند د سبک ځانګړنې

۵- د عبدالحیمد مومند شاعري

۶- په پښتو ادب کې د هندي سبک پلویان شاعران

۷- تشبیه

۸- د تشبیه بنسټونه

۹- د حمید بابا په اشعارو کې دماهیت په لحاظ تشبیه

۱۰- محسوس تشبیه د محسوس سره

۱۱- محسوس تشبیه د معقول سره

۱۲- معقول تشبیه د معقول سره

۱۳- معقول تشبیه د محسوس سره

۱۴- پایله

۱۵- اخځلیکونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سريزه

ژوند زمونږ د ژواک د سرشنو يو سپېڅلی کتاب دی او ښه شاعر ددغه کتاب مفسر دی- د شاعر لويه بريا د هغه د پلټنې زور (قوت او انکشاف) دی، هر څوک د ژوند دغه پلټنه نه شي کولای. ښه شاعر د ژوند په پټو او ښکاره ټولو رازونو پوه وي او خپل خيال مونږ ته په داسې ښکلې لفظونو کې وړاندې کوي، چې زمونږ ټولې پټې ارادې او قوتونه راڅرګند کړي او له ځانه سره مو د ژوند د ښايست په ننداړو ودروي، ځکه خو دارنګه په شان مفکر په دې وينا ګويا شو، چې ((شاعر ي بل څه نه دي د ژوند تفسير دی)). پښتو ادب بڼ هم د خپل ژوند د تفسيرولولپاره ډېر داسې شاعران لري، چې د پښتنو ژوند تفسير کړي او خپل نوم د تاريخ په پاڼو کې ژوندی وساتي.

د پښتو ادب بڼ په ګلزارولو او ښېرازولو کې ډېرو شاعرانو، ليکوالانو او ....خپله- خپله ونډه تر ډېره ځايه اخيستې ده، د دغې ښکلا او ښېرازتيا څخه د وګړو زړونه خوښ او سترګې روښانه شوي دي، د ښېرازونکو او زرغونوونکو له ډلې څخه يو هم حميد مومند دی، راځئ، چې په بابا يې ونوموو.

عبدالحميد بابا د پښتوادب د کلاسيک پېر يو داسې نامتو او نازکخياله څېره ده، چې د نږدې درې سوو کلونو په بهير کې پښتو ادب په ځانګړې ډول په نازکخيالۍ کې د هغه ساری ونه موند.

د خوشحال خان خټک او عبدالرحمان بابا ترڅنګ عبدالحميد مومند هم ځانته يوه بېله لار وټاکله، چې د هندي ادبي ښوونځي په نامه يادېږي. حميد مومند د پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ادب نړۍ یو داسې سپېڅلی غړی دی، چې د ادب په آسمان کې یې یو جلا کهکشان جوړ کړی دی، د حمید شاعري د نظر د خاوندانو په اند د پښتو ادب شهکار دی.

حمید بابا په خپله شاعرۍ کې په ساحرانه ډول د محاورو، اصطلاحاتو، استعارو، تشبیهاتو، کنایو او لفظي رعایاتو په کارولو سره پښتو شاعري د فن معراج ته رسولې ده. د عبدالحمید مومند په شاعرۍ او کلام کې هغه ټول محاسن، رنګیني او ښکلا شته دي، کوم چې شعر ته د آفاقیت او عالمګریت مقام وربښي او د شعریت پر پلاز یې کښېنوي.

لکه څنګه، چې د حمید بابا کلام د ادبي فنونو او ادبي ښایستونو له دُر څخه ډک دی، نو ما هم د ده په کلام کې د ماهیت په لحاظ د تشبیه د ځرګندولو هڅه کړې ده.

زما دغه لیکنه د حمیدبابا ژوندلیک، زده کړه او زېږنځی، د حمید شاعري، د حمید سبک او ښوونځی، د هندي ادبي ښوونځي ځانګړنې او د هندي ادبي ښوونځي پلویان شاعران، دحمیدپه اشعارو کې د ماهیت په لحاظ تشبیه (له څلورو واړو ډولونو سره)، پایله او اخځلیکونه په خپله لمن کې رانغاړي.

د ((پوره یو خدای دی)) تر شعار لاندې ستاسو ادبپالو او ادب لوستو څخه هیله کوم، چې خپلې ښوونیزو لارښوونې راڅخه ونه سپموي او په رغندو لارښوونو مې ولمانځي. نور نو ستاسو او د آرې منځپانګې تر منځ واټن نه اوږدم او د موضوع لوستلو ته مو رابولم.

په مینه او ادب

رفیع الله ستانګزی

کابل نوی ښار

25/11/1385

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د حمید بابا ژوند لیک

کابو دوه نیمې پیړۍ پخوا د پېښور کوهاټ سړک او باړې رود پر ښۍ غاړه پراته کلي ماشو ګګر (ماشو) کې په یوه ډېر غریب چاپیریال کې د عبدالحمید ماشوخېل په نوم یوه شاعر ژوند کاوه، چې په ژوند کې یې دېرو لږو وګړو د احوال خبر واخیست، خو دپښتنو د تلپاتې دود او دستور سره سم وروسته له مړینې دېر وستایل شو، چا دپښتو ژبې بېدل، چا د پښتو ژبې سعدي او چا دوېښته چوونکي (موشګاف) لقب ورکړ.

د ده دپلار او یا دا چې د چا زوی دی تر اوسه پورې کوم باوري او دقناعت وړ مأخذ هم نه شته، چې بشپړ مالومات په کې وي، خو د اوسمهالو (معاصرو) لیکوالانو له دلې څخه یوه نوماند (مشهور) لیکوال محمد اصف صمیم یې د پلار نوم عبدالحق ښودلی دی.(۱)

د زوکړې ریښتینې نېټه یې نه ده څرګنده، اما داسې ګومان کېږي، چې د یوولسمې یونیزې (هجري) پیړۍ په اواخرو کې به زوکړی وي.(۲)

د پښتو ادب څېړونکو دده په دیوان کې ځینې تاریخي پېښو ته دځنګزنو (اشارو) له امله د ده دزوی کړې نېټه په خپل خپل تحلیل ښودلې ده، پوهاند حبیبي وایي، چې په (۱۱۰۰) ه ق کال زېږېدلی دی، همدغه نظر رښتین صاحب او الفت صاحب هم

---

[1] - محمد آصف صمیم: ((د پښتو ادب تاریخ په وروستي چاپ کې د یوې نوې خبرې رڼاوی))، کابل: ځولۍ مجله، لومړی کال، دوهمه ګڼه، ۴۱ مخ.

۲-زلمی هېواد مل، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹کال، (۲۱۵) مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تأیید کړی، خو ښېنوا صاحب بیا د (۱۰۷۵) ه ق ښودلې ده، ډاکترانوارالحق په دُرومرجان کې (۱۰۷۵ – ۱۰۸۰) ترمنځ ښوولې ده، همېش خلیل د ورکې خزانې په لومړي ټوک کې د حمید بابا د زوکړې نېټه (۱۰۸۳) ه ق ګنلې وه، خو داسې ښکاري، چې د اورنګزېب د پاچاهۍ پر مهال یې د شعر هنګامه ګرمه وه، لکه چې وایي:

په قوت د یار د در د ګدایۍ

د اورنګ پادشاه تر تخت لاندې مواس شوم

سره له دې یې هم د اورنګزیب عالمګیر مړینې (۱۱۱۸- ۱۰۶۸) ته هم په یوه بیت کې دا ډول څنګزنه (اشاره) کړې ده.

خه به شور نه وي د هند په میخانه کې

چې اورنګ څخه د حکم جام نسکور شو

څوک چې دغه مهال د شعر ویلو داسې قریحه ولري، چې مهم ټولنیز او سیاسي حالات په خپل شعر کې رانغاړي، هغه به د ژوندانه د څلې په نیمایي او یا هم د ژوند پوخوالي ته رسېدلی وي، نو په همدغه لاسوند (دلیل) د حمید د زوکړې نېټه موږ د دېوان د داخلي شواهدو پر بنسټ تر (۱۰۸۰) ه ق راپه دېخوا اټکل کولای شو.

د بابا په باب دېرې پوهان، لیکوالان او څېړونکي په یوه خوله دي او وایي، چې مومند دی خو قوم یې ماشوخېل دی، چې د مومندو یوه پښه ګنله کیږي؛ لکه چې وایي:

دمومندو جوهر خانې لره دې راشي

که څوک غواړي ښه لعلونه یمني

د حمید بابا د دېوان او نورو اثارو څخه دا جوتیږي، چې عبدالحمید د خپل مهال مروجه علوم لوستي ؤ او په خپل وخت کې په ملا عبدالحمید نوماند (مشهور) ؤ، د ا خبره، چې دی ملا ؤ د ده د ځینو آثارو د خطي نسخو په پای کې لیدل کیږي. ([1])

---

[1]- زلمی هېواد مل، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ کال، (۲۱۵) مخ.

۲- محمد آصف صمیم، د حمید مومند کلیات، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳ کال، دریم مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پارسي، عربي او حتا د هندي ژبې په ځينو لهجو پوهېده. همدا ډول د حميد بابا د مړينې او مزار په باب کورني او بهرني څېړونکي او ليکوالان تر (۱۳۳۸ لمريز – ۱۹۵۹ زېږديز) پورې په دې اند وو، چې ګڼې حميد مومند تر (۱۱۴۵) ه ق پورې ژوندی ؤ او يا دبلومهارت پر ژبه په همدغه کال مړ دی، خو د حميد بابا د شرعة الاسلام په پيداکېدو سره دغه ګروهه (عقيده) واوښته او تر (۱۱۴۸) پورې يې ژوند يقيني شو، ښايي تر (۱۱۵۰) پورې ژوندی وي او دا چې د مړينې جوته نېټه يې نه ده خرګنده، خو دا ښکاره ده، چې مزار يې د ماشوګګر په هغه لويه هديره کې دی، چې د کلي ترځنګ د خوړ پورې غاړې سوېل ده دې ته پرته ده. (۲)

# د عبدالحميد مومند سبک:

د خوشحال ننګ او غيرت به ځان سره کړم
د ابــــمـــل نه به د تــــــورې وهل زده کړم
د رحـــمــــان پـــــه هـــــديره به دعــا وکړم
د حــــمـــيـــد غــزل به ځان ته وظيفه کړم

تر خوشحال خان او رحمان بابا وروسته پښتو ادب ته څښتن تعالی يو داسې شاعر ورکړ، چې مبتکره او نوښتګره قريحه يې درلوده، نه يې غوښتل چې دبل چا پيروي وکړي، بلکې په خپله يې يو نوی سبک جوړ کړ او نور خلک يې خپلې پيروۍ ته راوبلل. په خپل قوي تخيل او فکري استعداد يې د پښتو ژبې په شاعرانه نړۍ او شاعرۍ کې داسې سبک ايجاد کړ، چې په هغه کې د ادبي فنونو ښکلي صنعتونه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړ خيالونه، په نادرو تشبه ګانو، استعارو، کنايو او شعري تلازماتو کې دښکلو، لطيفوو جملاتو او اصطلاحاتو په واسطه راوړل شوي دي، که څه هم د حميد سبک د کلماتو او جملاتو له مخې مغلق او پېچلی دی او هم د رحمان بابا دسبک سادګي او د خوشحال خان دسبک ارتوالی نه لري، خو سره له دې اغراقه هم دا سبک دومره خوږ دی، چې لوستونکي که څه هم د رحمان بابا او خوشحال خان د سبکونو متخصص وي، چې د حميد اشعار ولولي، هغه ترې هېروي.

د پښتو څېړونکو او سبکپوهانو د عبدالحميد مومند سبک د پښتو هندي سبک بللی، ځکه، چې د هندي ادبي ښوونځي ټولې ځانګړنې او نښې د ده په اشعارو کې ځليږي.

د هندي ادبي ښوونځي او دهندي سبک خبره مو مطرح کړه، نو ښه به دا وي، چې په سبک او مکتب لنډه او ځغلنده رڼا واچوو:

سبک: ويلونه، طرز، دود، دافادې دود، ويلې شوی فلز په قالب کې اچول، کلمې او وييونه په ښکلي ډول پيېيل، اوډل او هم ديوه ليکوال د افادې طرز ته سبک وايي.

مکتب: ښوونځی، لوستون، ليکځی او هغه ځای، چې ليک او لوست په کې کيږي. (۱۰)

اوس به د سبک او مکتب تر منځ توپير ته راشو او د دغو دواړو توپيرونه به په ګوته کړو:

سبک د مکتب په پرتله کوچنی، غونډ دی او مکتب ټول، لوی او عام دی. سبک يوه ټاکلې تاريخي دوره ښکاروي او ديوه ليکوال داثارو د ځانګړنو ټولګه ده، خو مکتب يا ښوونځی بيا پراخه او غوړېدلې دوره ځلوي او دډېرو ليکوالانو د اثارو د ځانګړنو ټولګه ده. يانې په لنډ ډول ويلی شو، چې: سبک دځانګړتيا او مکتب د ټوليزوالي نوم دی.

---

[1]- محمد آصف صميم، د عبدالحميد مومند کليات، پېښور: دانش خپرندويه ټولنه، ۱۳۸۳ کال، يوولسم مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د عبدالحمید مومند د سبک ځانګړنې

۱- ددې ښوونځي د شاعرانو په کلام کې ډېرښت (افراط) او کمښت (تفریط) دېر لیدل کیږي.
۲- د حمید د سبک اشعار د یو ځانګړي آهنګ او غاړې (لحن) لرونکي دي.
۳- د ادبي صنایعو(ښکلاوو) په پاللو کې دا سبک ډېر غني او پیاوړی دی.
۴- اغراق او مبالغه د حمید بابا د سبک له ځانګړنو څخه ده.
۵- ایجاز او لنډون یې بله ځانګړنه ده، چې په لږو ښایسته الفاظو کې ډېر څه بیانوي.
۶- د ځانګړو او دقیقو تشبیهاتو او استعارو فن په دې اشعارو کې په ځانګړې توګه خپل ځان ښکاره کوي.
۷- دغه سبک د نادرو تشبیهاتو او استعارو په راوړلو سره ډېر پارسي اصطلاحات او کلمات هم په پښتو ژبه کې ګډ کړل.
۸- نویو مضامینو او تازه فکر موندلو ته په کې ډېره پاملرنه کیږي.
۹- د فولکلوري توکیو (متلونو، ګړنو، محلي اصطلاحاتو او ....) کارونه په کې ډېره ده.
۱۰- د حمید غزلیزه شاعري ډېرۍ د مینې پر چورلیز چورلي او موضوعي تیت او پرکتیا په کې دېره تر سترګو کیږي.
۱۱- د دې ښوونځي ډېرۍ شاعران په لفظي نزاکت، باریکۍ او مضمون پنځونې پسې ګرځي او د شعر د دودیزو آرونو څه ډېره پروا نه ساتي.
د عبدالحمید مومند شاعري

(c) ketabton.com: The Digital Library

د عبدالحميد ماشوخېل د پښتو ادب د کلاسيک پېر يو داسې نامتو او نازکخياله ښېره ده، چې د نږدې درې سوو کلونو په بهير کې پښتو ادب ته په ځانګړې ډول په نازکخيالۍ کې د هغه ساری ونه موند.

لکه څنګه، چې خوشحال خان د پښتو ادب بنې لمن ا رته او زرغونه کړه او د پښتو ژبې پلار شو او رحمان بابا د پښتو ادب بڼ رنګين کړ او د الهام له لارې يې د زړه غوټۍ پرانيستلې د غيب السان او بابا لقبونه يې خپل کړل، همدارنګه حميد مومند هم د پښتو شاعري د عروج تر بريده ورسوله، دنازکخيالۍ او مضمون افرينۍ په دګر کې د استادۍ تر پولې لاړ، نو ځکه ورته د وېښته چوونکي (موشګاف) لقب ورکړ شوی دی.

حميد بابا د منظره کشۍ يو ماهر استاد ښکاري، هغه ديو ماهر انځورګر په څېر د الفاظو په ذريعه د حسن د اجزاوو ښکلي ښکلي انځورونه کښلي دي. د حميد بابا داغ، داغ زړګی د هغه د تخيل او دهغه په زړه پورې انداز د هغه غزل ته د معراج وزر ورکوي، دی دنازکخيالۍ د کاروان سالار دی. (۱۰) عبدالحميد مومند د پښتو ژبې داسې شاعر دی، چې اشعار يې په ځانګړې توګه د شکل د پوخوالي له کبله معمولاً د پښتو ژبې دکلاسيکو شعرونو د ببلګو په توګه راوړل کيږي. الفت صاحب د حميد شعر د هغه لباس سره ورته کړی، کوم، چې ډېرې غټې او ميده بخۍ ولري، همدا ډول دګلدوزۍ د ېرښت په کې له ورايه ځليږي او دهر راز بوټي ګلونه په کې شتون ولري.

دهمېش خليل په قول حميد بابا خپله شاعرۍ کې په پريوانه ډول د محاورو، اصطلاحاتو، استعارو، تشبيهاتو، کنايو او لفظي رعاياتو په راوړلو سره پښتو شاعري د فن معراج ته رسولې ده. خپلې رنګين بيانۍ، مضمون افرينۍ او نازکخيالۍ حميد بابا د انفراديت په عالي مقام کې سرفرازه کړی دی او دنورو پخوانيو له پيروۍ څخه يې بې نيازه کړی دی.

---

[1]- صديق الله رښتين، د حميد بابا ديوان، کابل: ۱۳۲۰ کال، (۵) مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمید بابا آسمان ته د شعر زینې کېښودې او د نازکخیالۍ او خیالبافۍ په مټ یې د آسمان ستوري و پیل او د تخیل په زور یې هغو ځایونو ته یون وکړ، چې چېرته عقل هم خپله کمزوري ښیي. ([1])
د حمید د اشعارو منځپانګه د مینې او عشق هغه حیاتي موضوع ده، کوم چې په انساني ژوند کې انکار نه منونکې ده، حمید د یو ریښتینې پاک مین په ډول د خپلې مینې هغه جذبات او احساسات په خپل شعر کې په قوي تخیل او ابداعي هنر ترسیم کړي؛ لکه یو نقاش یا مجسمه جوړونکی، چې خپله ارزو او هیله په نقشه یا مجسمه کې کټ مټ راوړي.
د ده د ټولو فکري تخیلاتو مأخذ او مرجع د ده ټولنه او چاپېریال دی او له هر شي، چې اغېزمن شوی وي، هغه یې هرو مرو په کلام کې انعکاس مومي، د حمید د کلام د خوږ والي امتیاز په دې کې دی، له هغه څه څخه، چې دی متأثر شوی دی، دغه تأثر یې په اشعارو کې په ښکلي ادبي انداز او زړه وړونکې بڼه د قلم په ژبه بیان کړي دي.
د مینې سوز او ګداز، ریښتیني جذبات او احساسات یې د بر ښه درک کړي دي، او دهغو تمثیل یې په شعري الفاظو کې په خوږه ژبه کړی دی، چې د ویلو او اورېدلو سره سړی ترې خوند اخلي. د حمید شعرونو ته په کتو سره د ده د خپله ادعا په ځای ښکاري او بې ځایه نه ده؛ چې وایي:

اوس د فکر توره واچوه حمیده
چې دې نشته په پښتو کې بل حریف

---

[1] - هماغه اثر

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په پښتو ادب کې د هندي سبک پلویان شاعران

ځنګه چې حمید بابا په پښتنو شاعرانو کې په لومړي ځل داسې سبک جوړ کړ، چې د خپلو ځانګړنو له مخې هندي ادبي ښوونځي پورې اړه لري.
د حمید د وینا دود د ده د مهال شاعرانو او وروسته تر ده نورو شاعرانو خوښ کړ، چې په همهغه لار یې ویل پیل کړل، لر او بر او حتا د هند په ځمکو کې ډېرو شاعرانو د ده لار نیولې ده او خپل شعري سبکونه یې د حمید د شاعرۍ په پیروي عیار کړي دي.(۱) چې د پښتو ادب څېړونکي یې د حمید د سبک پیروان یا لارویان بولي او دا ټول بیا د هندي ادبي ښوونځي شاګردان بلل کیږي.
په پښتو ادب کې د دغه سبک په پیروۍ شاعري په پښتونخوا کې پیل شوه، په هند کې او سېدونکو ځینو شاعرانو معراج ته ورسوله، په کندهار کې یې وده وکړه او اغېز یې تر او سمهالې (معاصرې) دورې پورې پایښت وموند. (۲)
د حمید بابا څخه وروسته د هغوی د مکتب په شاعرانو کې کامګار خټک، کاظم خان شیدا، حنان بارکزی، بېدل، خانګل خلیل، محمدي صاحبزاده، احمدي صاحبزاده، میرزا خان انصاري، صمد، عبدالله محزون، محمد بیاض، ملامحمد اکرم، عبدالله، عبدالغفار بریالی او نور هم په خپل خپل ځای اهمیت

[1]-زلمی هېوادمل، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹کال، (۲۱۶او ۲۱۷) مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري. خو کاظم خان شیدا ، چې دغه سبک کې کوم مقام او پوړ ته ځان رسولی د ، دهغه له اعترافه سترګې نه شو پټولای او باید ډېر ډېر وستایل شي، همېش خلیل د حمید او شیدا شاعري د ښکلو نازکو وربښمو د یوې حسینې او ښایسته پنجرې سره ، فکر او مقصد یې د حسین مارغه سره ورته کړی، د ده په وینا دحمید د فکر مارغه که له هره اړخه وکتل شي روڼ مالومېږي او دشیدا د زښتې ډېرې نازکخیالۍ او ډېرې رنګین بیانۍ په دغه پنجره کې د شیدا فکري مارغه تت او د حقیقت غوندې نه ښکاري.

**کاظم خان شیدا:**

د راورټي له قوله کاظم خان شیدا د (۱۱۳۵-۱۱۴۰) کلونو ترمنځ د افضل خان په کور کې زېږېدلی دی.

شیدا په ځوانۍ کې د مهاجرت ځپېړه پرمخ وخوړه او د هندوستان مهاجر شو او د همدې مهاجرت پر اساس یې په شعر کې سوز او ګداز پیدا شو ، ښایي کاظم خان شیدا د خپل پښتني چاپیریال څخه دلرې والي او په هند کې د ا وسېدلو له امله د فارسي ادب تر تاثیر لاندې- چې په هند کې درباري، دفتري او علمي ژبه وه- راغلي وي، ځکه یې په شعر کې فارسي کلمات دومره ډېر دي، چې کله یې پښتنی رنګ بدل کړی دی.

شیدا هندي سبک خپل اوج ته ورساوه او په ټولو مانااوو یې د هندي سبک ځانګړنې خپلې کړې، حتا تردې پورې، چې کله خپل پښتني قالب تر هندي سبک ځاروي.

شیدا د دېوان څښتن دی، چې په دیوان کې یې ډېری غزلي دي، نورې برخې هم شته؛ لکه: بوللې، پنځه بیزې، څلوریزې، دوبیزې، او نور شعري ډولونه هم د شیدا په دېوان کې تر سترګو کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شیدا د شعر څو بیتونه:

دُریده مې کړ ګریبان سترګې خونبارې
په ما وکړې خپل افتاب د سحر چارې
منور یې لکه لمر زما چشمان کړل
خط دې واړه شعایې ؤ خوشنګارې

شیدا په کال (۱۱۹۴) ه ق کې په رامپور کې مړ دی او په هم هغه ځای کې خښ شوی دی.

کامګار خان خټک:

کامګار خان خټک د نامدار خان زوی د اشرف خان لمسی دی، د زیږېدو جوته نېټه یې نه ده څرګنده، خو دومره مالومیږي، چې په (۱۱۶۵) کال کې مړ دی. په پښتو او فارسي ژبه یې شعرونه ویلي دي، یو نازکخیاله شاعر دی، د هندي سبک د نورو شاعرانو په څېر یې خپل ټول ادبي ژوند د خط او خال ستایلو ته ځانګړی کړی دی، د شعر دیوان لري، چې د شعر نمونه یې په دې ډول ده:

له خاطره مې عشق یوړ تدبیر ورو ورو
دیوانه شوم سزاوار د ځنځیر ورو ورو

صورتګر چې ستا صورت په سترګو ولید
له خجلته یې کړ ځیرې تصویر ورو ورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قلندر مومند:

قلندر د ژوند د تيارو د رڼولو لپاره کوم مستند شواهد په لاس کې نه لرو، دومره وايو، چې د سوات اوسېدونکی او د زلمي هېوادمل صاحب په وينا ژوند يې تر (۱۱۵۰) ه ق پورې يقيني ښکاري، د هندي سبک پيرو دی، يو کوچنی ښکلی ديوان لري.

قلندر د پښتو او فارسي ژبې شاعرانو پر خلاف يو معلوم محبوب لري، چې د قلندر محبوب ميرا دی، دی په ميرا باندې عاشق دی او دا هغه سووځونکې او ريښتينې مينه ده، چې د ده له مرګ وروسته يې داستان د فولکلور لمنې ته لوېږي. ([1])

د قلندر د سوځنده شعري نړۍ د يو شعر څو بيتونه:

چې رایاد یې سپین غاښــونه سره لبان کړم
ډَرد اوښـــکو يـــې نـــثار تـــر ګرېبان کړم

تورې زلفې چې يې وربځې کـړم په زړه کې

[1]- عبدالباري جهاني، د مشکو کاروان، کندهار: صحاف نشراتي ارګان، ۱۳۸۳ کال، (۵۷ او ۶۶) مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تو ی د اوښکو له چشمانو پرې بــاران کړم

**پیرمحمد کاکړ:**

د پښتو په کلاسیکو شاعرانو کې د لوړ مقام څښتن دی، دا چې د چا زوی او دکوم ځای دی موږ په تیاره کې پرېږدي او تر اوسه پورې هیڅ مالومات د دې خوږ ژبي شاعر په اړه نه لرو.

د پیر محمد کاکړ د اشعارو څخه جوتیږي، چې د حمید د سبک لاروی دی او د مضمون له مخې یې د حمید په تعقیب او پیروۍ د خط ډېره ستاینه کوي او ډېر ځای یې د حمید پر مضمون شعر ویلی دی.(۲)

لکه دا شعر:

ویمې ماته ستا دغاښو تعریف څه دی
وې ژلۍ دي په لاله کې چې ویلیږي
او دا یې هم د شعر څو بیتونه د نمونې په ډول:
باریک خط پر کښلي مخ سو د جانان ګډ
لور په لور شوه په عسلو مُرچګان ګډ
پاس پرشونډو یې خال نه دی چې نمایږي
شین مګس دی په چشمه کې د حیوان ګډ

**محمدي صاحبزاده:**

محمدي صاحبزاده د خمکنو د میا عمر زوی دی، په پښتو کې د ښکلي دیوان څښتن دی او د المستغاث په نامه منظوم پښتو کتاب لري، د برهان الاصول او مقاصد الفقه په نامه دوه عربي کتابونه یې هم لیدل شوي او محمدي صاحبزاده په کال(۱۲۲۰) ه ق کې مړ شوی. ([1])

[1]-زلمی هېوادمل، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ کال، (۲۲۰) مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

محمدي صاحبزاده خپله ټوله پاملرنه د غزل خواته اړولې ده او د پښتو ژبې د ادب د دغې اشنا برخې په سینګارولو کې یې خپل ادا کړی دی، خپل ټول شعرونه یې د جانان د جمال په ستایلو او غماز په غندلو کې ویلي دي. د شعر بېلګه یې داده:

چې بې تاګرځم په سیل د نوبهار کې
سره لمبه وینم د اور په لاله زار کې
محمدي د یار د مخ آیینې ته ګوره
دې سرو اوبو ویشتلی یم په نار کې

شمس الدین کاکړ:

شمس الدین کاکړ لکه څنګه چې ځان د لعل په څېر په ایرو کې پټ ګڼي همداسې د لعل په شان نړۍ ته پټ راغلی دی، څکه چې د پلار، زېږنځی او مړینې په اړه یې هېڅ مالومات نه لرو. البته عبدالباري جهاني د مشکو کاروان په ادبي تذکره کې لیکي دي؛ چې: ((د نولسمې پېړۍ په لومړۍ نیمایي کې یې د کندهار د کلچ آباد په کلي کې ژوند کاوه )).([1]) لکه چې په خپله وایي:

لکه لعل په ایرو کې دی بې قدره
هسې پروت دی شمس الدین په کلچ آباد

شمس الدین د حمید ماشوخېلي ډېره ښه پیروي کړې ده او حتا په ځینو ځایونو کې یې نه یوازې د هغه د غزلونو په اقتضاء غزلې ویلي دي؛ بلکې مضمون یې هم کټ مټ راخیستی دی. (۲) د کلام بېلګه یې په لاندې ډول ده:

مایو جام کړ د ساقي له لاسه نوش
لاړ له سره زما دواړه عقل وهوش
د یار غم به یې فنا لکه حباب کړي

[1]- عبدالباري جهاني، د مشکو کاروان، کندهار: صحاف نشراتي ارګان، ۱۳۸۴ کال، (۵۴ او ۵۵) مخونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شمس الدين که له ګفتاره سي خاموش

میرزا حنان بارکزی:

حنان بارکزی کابو یوه نیمه پیړۍ پخوا په کندهار کې ژوند کړی دی. د میرزاحنان بارکزي ټول شعرونه د وصال او هجران- خط او خال – حبیب او رقیب- موضوع جوړوی او دا تنګه موضوع یې په ډېر هنرمندانه ډول په ښکلو الفاظو کې ځای کړې ده، چې دی ددې موضوع د بیانولو لپاره ډېر رنګین او ښایسته کلمات او الفاظ لري.حنان ځان د حمید پیرو بولي، کله کله خو د الفاظو او کلماتو په استعمال او کارونه کې د هغه دومره پیروي کوي، چې شکل او متن یې په بشپړه توګه کاپي کوي، هغه تر جیح بند کې یې، چې د حمید په پیروۍ لیکلی دی، دا پیروي او کاپي په ښه ترا توګه جوتیږي. د شعر بېلګه یې:

د خوبانو خط و خال دی کان د مشکو
څه که کاندي هر سړی ارمان د مشکو
د حنان سینه نو خطو تور سکاره کړه
که سینه ده د حمید دو کان د مشکو

بېدل هشنغري:

د بېدل هشنغري د شعر هنګامه د تېمور شاه دُراني (۱۱۸۶-۱۲۰۷) په زمانه کې ګرمه وه. (۱[1])

بېدل یو دردمند شاعر دی، چې په خپلو اشعارو کې یې د سوز او ګداز په ملتیا پښتو ادب ته نوی روح ببنلی دی. بېدل د شعر دیوان لري او د حمید بابا د سبک پیرو شاعر دی، چې د حمید د ترکیب بند پیروي یې کړې ده؛ لکه چې وایي:

نن به شپه زما دیار په کوم منزل وي

---

[1]- زلمی هېوادمل، د پښتو ادبیاتو تاریخ، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ کال، (۲۲۰) مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

جلوه ګر به په کوم ځای په کوم بُرجل وي
خبر نه ورسره به ساد که غل وي
همراهان به یې شیرین او که حنظل وي

عبدالغفار بریالی:

په کال نولس سوه نه اویا کې د مني په شپو ورځو کې د کندهار په هوایي میدان کې د حاجیانو الوتکه پر مځکه کښېناستله او د خلقي رژیم پولیسو څو تنه حاجیان، مخکې له هغه چې د خپلو خپلوان دی مخ وګوري، د معمول سره سم د عادي پوښتنو او تحقیقاتو په پلمه ورسره بوتلل. په دغه حاجیانو کې چې پولیسو ورسره بوتلل، مولوی عبدالغفار بریالی هم شامل و، چې بیایې چا مخ کې له مرګه مخ او وروسته له مرګه قبر ونه لید. مولوی عبدالغفار بریالی د کندهار د کلاسیک طرز د شعر د وروستي ځلانده ستوري په حیث د تل لپاره د آسمان څخه پرېووت.مولوي.

عبدالغفار بریالی د کندهار اوسېدونکی او د عمر وروستي لس دولس کاله یې د هلمند ولایت د ګرشک په ولسوالۍ کې د دیني علومو په تدریس تېر کړل. په پښتو، فارسي، عربي او اردو ژبو پوهېده. ده خپلې لومړنۍ زده کړې له بېلابېلو مذهبي علماوو څخه کړي او د لوړو مذهبي زده کړو لپاره د هند د دیوبند مدرسې ته ولاړه او له هغه ځایه په ممتازه درجه فارغ شو. عبدالغفار بریالي کابو خپل ټول شعرونه په کلاسیک سبک لیکلي دي او د شعرونو مضمون یې ډېری خط او خال، وصال او هجران، جانان او رقیب جوړوي، خو د همدغو محدودو مضامینو د آفادې لپاره یې په زرهاوو الفاظ او ترکیبات درلودل، که د مرګي څپېړې نه وی وهلی نو هرو مرو به یې د یو کاکړ شاعر په توګه د پیرمحمد کاکړ او شمس الدین کاکړ ادبي تشه ډکه کړې وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي عبدالغفار بريالي د پښتو ژبې د نازکخيال او موشگاف شاعر عبدالحميد ماشوخېل په پيروي د حسن د ستايلو پر ميدان زلفو او خط ته تر هر څه ډېر متوجه شوی دی او په دې برخه کې يې د کندهار تر ټولو معاصرو شاعرانو هم د کيفيت له مخې او هم ډېر بيتونه ويلي دي. (۱)

د شعر بېلگه يې په لاندې ډول ده:

تورې زلفې دې اوږدې د مخ پر لوري
که هندو پښې غځولي دي قرآن ته
کج گېسو دې پېچاپېچ سره ټولېږي
که فرعون سجده وکړله ځان ته
زاغ د خط دې کړې منگولې په مخه خښې
که شيطان و لاس يې واچوه ايمان ته
بېهوده تړمه عشق په تار د صبر
زمری کله نيسي پزه و پېزوان ته
بريالیه خال که گوښه د کږو وروځو
دا کتاب ضرورت نه لري نښان ته

د هندي ښوونځي په لار، چې حميد يې مخکښ دی، ډېرو نورو شاعرانو د حميد لار نيولې او تعقيب کړې ده. لکه: ملا محمداکرم حمدالله کاکاخېل، مير عبدالله، صديق اخونزاده، عبيدالله هوتک، عبدالله پوپلزی، ملارحمت الله، ملا قلندر او ډېر نور.

حميد بابا يو داسې ښوونځی پښتو ادب ته رادا خل کړ، چې ډېرو شاعرانو دغه ښوونځی ولوست او د ورتلو تکل يې ور وکړ، چې تر ډېره بريده بريالي هم شول، د ټولو راوړل دلته زموږ د موضوع د اوږدوالي سبب گرځي، خو د همدې

[1]- عبدالباری جهاني، د مشکو کاروان، کندهار: صحاف نشراتي ارگان، ۱۳۸۴ کال، (۲۱۳) مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو تنو، چې د لنډې بیوګرافۍ (ژوندلیک) سره مو دمخه در وپېژندل بسنه کوو.

که زه د حمید او د هغه د لارویانو بشپړه پېژندنه وکړم، نو کتابونه، کتابونه به ونیسي او زما دا کوچنۍ رساله ګوتې به د دوی د ټولو پېژندنو توان په ځان کې ونه ویني. اوس خپلې آرې سکالو (موضوع) ته راګرځم، چې د حمیدبابا په اشعارو کې د ماهیت په لحاظ تشبیه ده، دا چې زما موضوع د تشبیه له ډولونو څخه ده، نو لومړی باید زه تشبیه تاسو ته درویېژنم او وروسته خپلې آرې سکالو ته وګرځم.

# تشبیه

تشبیه په لغت کې ورته والي، یورنګ والي ته وایي او په اصطلاح کې د دوو ځیزونو ګډو ځانګړتیاوو ته تشبیه وایي.

یا په بله وینا: یو څوک، یا یو شی، یو حال، د بل شي، بل چا او یا بل حال سره ورته کول دي، خو په دې شرط، چې د دواړو ترمنځ ګډ صفت موجود وي. (۱۰)

د تشبیه بنسټونه:

تشبیه په پنځو بنسټونو ولاړه ده، چې عبارت دي له:

۱- مشبه ۲- مشبه به ۳- وجه شبه ۴- د تشبیه ادات ۵- د تشبیه غرض

[1]- عبدالرحیم مسلم دوست، خوږه ژبه، پېښور: سبا کتابتون، ۴۱ مخ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- مشبه: هغه څوک یا شی یا حال دی، چې د بل چا، حال یا بل شي سره ورته شوی وي؛ مشبه بلل کیږي. لکه:
هېڅ مې نه زده محبت که اور دی دا
په اور سوځم په رضا که زور دی دا
په پورته بیت کې محبت مشبه دی او اور مشبه به دی.
۲- مشبه به: هغه څوک یا شی یا حال دی، چې بل څوک یا بل شي یا بل حال د ده سره ورته کړه شوی وي، مشبه بلل کیږي، د بېلګې په ډول:
الهي د محبت سوز او ګداز را
په دا اور کې د سهي سمندر ساز را
په پورته بیت کې حمید مومند محبت د اور سره ورته کړی دی، چې محبت مشبه او اور مشبه به دی.
۳- د تشبیه وجهه: یو یا څو ګډ ستاینومونه (صفتونه) چې د مشبه او مشبه به ترمنځ شتون ولري، د تشبیه وجهه بلل کیږي. لکه دا بیت:
د غنچې په څېر مې زیست په ځیګر خون دی
که هر څو یې لکه ګل له ما یکتا
په پورته بیت کې حمید بابا خپل ځان د غنچې سره ورته کړی دی، د ده او غنچې ترمنځ ځیګرخوني د تشبیه وجهه بلل کیږي.
۴- دتشبیه ادات: هغه کلمې یا توري دي، چې دد هغو له امله د مشبه او مشبه به ترمنځ تشبیه قایمیږي، دا توري کله وي او کله نه وي. لکه په دې لاندې بیت کې:
آیینې غوندې خوله پټه سوال ځواب کړه
مناسب نه دي اشنا ته رسوا عرض
په پورته بیت کې حمید بابا ځان د هندارې (آیینې) سره ورته کړی دی، چې د غوندې کلمه یې د تنبیه په اداتو کې راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د تشبیه غرض: هغه کوم مطلب او مقصد ، چې د تشبیه څخه اخیستل کیږي، د تشبیه غرض بلل کیږي.

تشبیه ډېر ډولونه لري لکه: تشبیه د طرفینو د موقیعت په لحاظ، د ابتذال او ندرت په لحاظ، د وجهې شبهې دشته والي او نشتوالي په سبب، د طرفینو د تعادل په لحاظ، تشبیه د طرفینو د بسیط والي او ترکیب په لحاظ، تشبیه د قلب او تفصیل په لحاظ، د تشبیه وېش د اداتو او تورو په لحاظ، او بله هم د ماهیت په لحاظ تشبیه ده، چې زما آره سکالو جوړوي.

## د عبدالحمید مومند په اشعارو کې د ماهیت په لحاظ تشبیه:

د ماهیت په لحاظ تشبیه څلور ډولونه لري:

۱- محسوس د محسوس سره:

۲- محسوس د معقول سره:

۳- معقول د معقول سره:

۴- معقول د محسوس سره:

چې هره یوه به په خپل وار سره د حمید د اشعارو د بېلګو په ملتیا واضح او تشریح شي.

۱- محسوس د محسوس سره:

هغه تشبیه ده، چې د تشبیه دواړه اړخونه محسوس وي، یانې په پنځو او څرګندو حواسو (چې په عام عُرف کې ورته حواس خمسه وایي)، کتل، بوی کول، اورېدل، څکل او لاس وهلو سره مالومیږي. لکه په لاندې بیت کې:

چې مې نشته همخوابه ښکلې په خواکې
نه دی کور په حقیقت کې ګور دی دا
(کلیات- ۶ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته بیت کې شاعر وايي: چې په ځنګ کې مې ښکلی یار نشته، نو دا کور راته ګور ده، یانې د هغه په نشتون کې خپل کور راته ګور غوندې تیاره او تنګ دی، چې کور مشبه او ګور مشبه به ده او د دغو دواړو ترمنځ تنګ والی، تیاره والی، وجهه شبه ده. لکه څنګه چې کور او ګور دواړه محسوس دي یانې په پنځه ګونو حواسو حس کېږي. چې د ماهیت په لحاظ د محسوس تشبیه د محسوس سره ده.

چې ریبي مې بې صرفي د زړګي ولې
کرېږ وروځې دي دیار که لور دی دا
(کلیات- ۶ مخ)

په پورته بیت کې حمید بابا د خپل یار د وروځو څخه سرټکوي او د عارفانه تجاهل په ډول وايي، چې دا وروځې دي او که لور، چې زما د زړه ریښې پرې کوي.

دلته یې وروځې د لور سره ورته کړي، لور او وروځې دواړه دحس کېدو وړ دي او د ورته والي وجهه یې کوږوالي او تېره والي دی، چې د ماهیت په لحاظ تشبیه محسوس د محسوس سره ده.

په هنر هنر یې زړه راڅخه یووړ
راته شو یار او رویبار طوطي مینا
(کلیات- ۹ مخ)

په پورته بیت کې شاعر یار او رُیبار د طوطي او مینا سره ورته کړي، په داسې حال کې، چې یار مشبه او طوطي مشبه به همدا ډول رُیبار، مشبه او مینا مشبه به ده، چې د ورته والي وجهه یې خوږ ژبېتوب او خوږې خبرې کول دي.
لکه څنګه، چې دتشبیه دواړه اړخه حس کېدونکي دي، نو د ماهیت په لحاظ تشبیه محسوس د محسوس سره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وا به نه ړوم نور مخ د ساده رویو
که د خط اره مې کښېږدي په تندي بیا
(کلیات- ۱۰ مخ)

په پورته بیت کې شاعر وايي: چې زه به هېڅکله د پی مخو او/یا ښکلو نه مخ وانه ړوم، که څه هم د هغه په ښکلي مخ باندې د خط اره هم راشي، زېبایي او د ښایست رڼایي ورته کمه یا تتنه هم کړي، زه به همهاغسې ورته ګورم او پایم به پرې. چې په دې بیت کې شاعر خط د ارې سره ورته کړی، خط، مشبه او اره مشبه به ده، د ورته والي وجهه یې اوږدوالی، نری والی او تېزوالی دی، چې د تشبیه دواړه اړخه حس کېدونکي دي او تشبیه دماهیت په لحاظ محسوس د محسوس سره ده.

قناعت مې اشتها کړه هسې صافه
چې اوګره راکوي خوند لکه ښوروا
(کلیات- ۱۱مخ)

په پورته بیت کې حمید بابا وايي: چې انسان ته په هر مهال او هر حال کې قناعت په کار ده، د همدې قناعت له امله به اوګره (چې بې خونده او بې بها ده) د ښوروا (چې مزه لرونکې ده) خوند راکوي، اګره یې د ښوروا سره ورته کړې، چې اوګره مشبه او ښوروا مشبه به، لکه دتشبیه توری دی، چې د تشبیه دواړه اړخونه محسوس دي او تشبیه د ماهیت په لحاظ محسوس د محسوس سره ده.

د غنچې په څېر مې زیست به ځیګرخون شه
که هر څو یې لکه له ما یکتا
(کلیات- ۱۲مخ)

په پورته بیت کې شاعر ځان د غنچې په څېر ښودلی دی او وايي: د غنچې څخه چې ګل جدا ده، نو هغه د هجران د ډېر غم له امله خوله پټه ده او زما ژوند هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

(تا ) یانې د خپل جانان د هجران له امله ژوند په ځیګرخوني ده، چې د شاعر او د غنچې ترمنځ د ورته والي وجهه، پټه خوله، هېڅ نه ویل او له ډېره غمه ځیګرخون او سپېدل دي، چې دوهم شخص یا خپل جانان (مخاطب) یې د ګل سره ورته کړی دی، چې طرفین دواړه محسوس دي، یانې جانان مشبه او ګل مشبه به دی او تشبیه د ماهیت په لحاظ محسوس د محسوس سره ده.

سم قامت د هغه یار راغی په خواکې
که همسا په لاس کې راغله د موسی
(کلیات- ۱۳ مخ)

په پورته بیت کې شاعر د خپل اشنا قد او قامت د موسی (ع) له امسا سره ورته کړې ده، او وایي: چې هغه لوړقامته یار مې په خوا کې راشي او ودریږي، داسې و انګېرم، چې د موسی (ع) امسا په لاس کې راغله، چې ډېره مبارکه او دنورو کوچنیو مارانو خوړونکې هم وه، په دې بیت کې قد ، قامت مشبه محسوس او امسا مشبه به محسوس دي نو تشبیه د ماهیت په لحاظ محسوس د محسوس سره ده او د دې ترڅنګ د تجاهل العارف یو ښکلی صنعت هم په کې شته دی.

د همزولو مرګ اثر درباندې نه کا
سترګې نه ځیږي له کک لکه ملخ
(کلیات- ۵۸ مخ)

په پورته بیت کې شاعر هغه سخت زړی انسان د ملخ سره ورته کړی، چې د خپلو همزولو او هېوادوالو په مرګ باندې حتا هېڅ نه ښوریږي، نو د (درباندې) مخاطب ضمیر مشبه محسوس او ملخ مشبه به محسوس. د تشبیه د ماهیت په لحاظ محسوس د محسوس سره ده.

په ژړا مې هسې خور په خندا لاړ شي
لکه پانه د ګل ماتې کا باران شوخ

(c) ketabton.com: The Digital Library

(کليات-۶۰ مخ)

دلته شاعر وايي: چې زما په ژړا باندې زما جانان د خندا څخه داسې خور او په ملا مات شي، لکه : د ګل پاڼه، چې تېز باران ماته کړي او په شا ماته شي، همهغسې زما يار هم زما په ژړا باندې خندا کوي او له خندا څخه په ملا ماتيږي، د يار خوربدل او په شا ماتېدل مشبه محسوس، د ګل پاڼه، مشبه به او د ورته والي وجهه يې نرى والى دى، چې تشبيه د ماهيت په لحاظ محسوس د محسوس سره ده.

پروانه غوندې خوله پټه خپسر سيځي
که څوک پيژني د عشق حد و حدود

(کليات-۶۵ مخ)

په پورته بيت کې هغه څوک، چې د عشق حد او برید پیژني مشبه ، پروانه یا پتنګ مشبه به او پټه خوله سوځېدل یې د ورته والي وجهه ده، څرنګه، چې مشبه او مشبه به دواړه د حس کېدو وړ دي، نو دماهيت په لحاظ تشبيه محسوس د محسوس سره ده.

په راتله د خط پايمال شي حسن هسې
لکه وتړي په ګلو څوک غويمنډ

(کليات- ۶۶ مخ)

په پورته بيت کې شاعر د يار له خط څخه شکوه کوي، چې د يار د مخ ټوله ښکلا يې تتته او کمه کړې ده او د حسن پايمالونکي يې د داسې سړي سره ورته کړي، چې په ګلو باندې غوايي وتړي او هغه ټول پايمال کړي او د هغه چم ښکلا ټوله له منځه يوسي، چې خط مشبه محسوس، غويمنډ مشبه به او د ورته والي وجهه يې پايمالول، خرابول دي، چې تشبيه د ماهيت په لحاظ محسوس د محسوس سره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مې وکړه تجربه د یار په شونډو
شهد و قند دا هومره کله دي لذیذ
دا تروه ترخه ښکنځل د دلبرانو
تر شکرو یو په سله دي لذیذ
(کلیات- ۶۸ مخ)

په پورته بیتونو کې حمید بابا وایي: چې کله مې د یار په شونډې وڅکلې نو د شهدو او قند خواږه رانه هېر شول، ځکه زما د یار د شونډو خواږه د شهدو او قندو په پرتله ډېر دي، چې د تشبیه په لحاظ غیر عادي تشبیه هم ده، او تشبیه د ماهیت په لحاظ محسوس د محسوس سره ده. ځکه چې، شونډې مشبه محسوس، شهد او قند مشبه به محسوس دي او د ورته والي وجهه یې خوږ والی، لذت اخیستل دي.

لکه سیل چې رژوي کمر د شګو
نړوي مې هسې مینه وار په وار
(کلیات- ۶۴ مخ)

په پورته بیت کې شاعر وایي: چې کله د شګو په کمره باندې سېل راشي نو د هغې وړتیا او ځواک نه لري او هغه نړول کیږي او له مینځه ځخه یې وړي، زه هم د یار د مینې په مقابل کې د شګو کمر یم، چې د یار مینه مې نړوي نو په دې لحاظ د شګو کمر مشبه او محسوس دی، همدا ډول (مې) چې د واحد متکلم لپاره نا خپلواک ضمیر دی مشبه به او محسوس دی، نړېدل یې د ورته والي وجهه ده، دا چې مشبه او مشبه به دواړه محسوس دي، نو دمحسوس تشبیه د محسوس سره ده. همدارنګه د شګو د کمر ترکیب یو اضافي ترکیب دی، چې د اضافت توری (د) له امله منځ ته راغلی او په شګو او کمرکې یې اضافي مؤکده تشبیه منځ ته راوړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مهرویان کله خپلیږي تول د چا
تر سپوږمۍ چا پېره کیږي شپول د چا
(کلیات- ۱۹مخ)

په پورته بیت کې شاعر د ښکلو د بې وفایۍ څخه شکایت کوي او وايي: څه رنګه چې د سپوږمۍ څخه د چا شپول نه تاویږي، یانې لاس رسی ورته نه لري او لوړه مغروره ولاړه ده، هغه هم د خپل ښایست او رڼا په سبب نو ښکلي او مهرویان هم د سپوږمۍ په څېر دي، چې د چا نه خپلیږي، که هر څو ورته لاس اوږد کړې او عذر او زارۍ هم ورته وشي هغه د چا نه خپلیږي.

په دې بیت کې مهرویان مشبه محسوس او سپوږمۍ مشبه به محسوس ده او د ورته والي وجهه یې ښایست، سپینوالی، او مغروري ده، چې دښایست په لحاظ تشبیه محسوس د محسوس سره ده.

هسې ځان ګڼه روان له دې جهانه
لکه اوښې د ښو پا په رکاب
(کلیات- ۴۷ مخ)

په پورته بیت کې حمید بابا نورو وګړو ته نصیحت کوي او ورته وايي، چې ځان تل له دې تلونکې نړۍ څخه تلونکی ګڼې، داسې تلونکی لکه اوښکه، چې د ښو په څوکو ولاړه وي او د ښو په رکاب باندې یې پښه اېښې وي، چې ډېر ژر لویږي او یا هم دلوېدو په حالت کې وي.په پورته بیت کې مخاطب (دوهم وګړی) مشبه محسوس او اوښکې مشبه به محسوس دي د ورته والي وجهه یې تلل دي چې دښایست په لحاظ تشبیه محسوس د محسوس سره ده. یانې په پورتني بیت کې د تشبیه طرفین دواړه محسوس دي.

هسې بې یاره حمید دی
لکه پروت بې اوبو کب

(c) ketabton.com: The Digital Library

(کليات- ۳۸ مخ)

په پورته بيت کې شاعر ته ژوندون بې له ياره محال ښکاري او وايي: لکه څه رنګه چې کب د ژوندي پاتې کېدو له پاره اوبو ته اړتيا لري همدا ډول زه هم د ژوند کولو او يا د ژوندي پاتې کېدو له پاره خپل يار ته اړتيا لرم.

په پورتني بيت کې حميد بابا ځان د کب سره ورته کړی دی او خپل يار يې د اوبو سره ورته کړی دی، چې د ورته والي وجهه يې د اوبو او يار په سبب ژوندي پاتې کېدل دي او ژوند ښنبل دي که دا دواړه دوی ته نه وي، نو يو هم له دوی څخه ژوند نه شي کولای، چې شاعر مشبه محسوس او کب مشبه به محسوس په بله تشبيه کې هم يار مشبه محسوس او اوبه مشبه به محسوس دي او د ښايست او صنعت په لحاظ تشبيه محسوس د محسوس سره ده.

هسې ما لري مهجور په وصالت کې
لکه تږی د يوه ګوټ په ارمان ډوب

(کليات- ۴۳ مخ)

په پورته بيت کې شاعر د جانان له زوروني څخه سرټکوي او موږ ته د خپل جانان د کړولو څخه خبروي، دی وايي: چې ما ته زما جانان په وصل کې هم هجر رابښي، دا په دې مانا چې زه د جانان سره وصل يم او يا هم وصال ته رسېدلی يم، خو په وصل کې مې هم داسې کړوي او د هجر په غم يې اخته کړی يم؛ لکه د يوه ګوټ هغه تږی، چې په اوبو کې ډوب وي او دی د يوه ګوټ په ارمان پاته وي.

په پورتني بيت کې شاعر مشبه محسوس او تږی مشبه به محسوس دی او د ښايست په لحاظ تشبيه محسوس د محسوس سره ده.

لګي لا د خط په وخت د يار عتاب سخت
وي د شپې باد و باران سيلۍ سيلاب سخت

(کليات- ۴۷ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته بیت کې شاعر وایي: کله، چې د یار پرمخ د خط توره لیکه هم راغلې وي، نو هغه مهال هم د یار د مخ جلوه سخته لګیږي؛ لکه چې په توره شپه کې باران، سیلۍ او سېلاب هم ډېر سخت او دردونکي لګیږي.
په پورتني بیت کې شاعر خط دشپې سره ورته کړی دی، چې خط مشبه محسوس او شپه مشبه به محسوس ده، همدا ډول د ورته والي وجهه یې تور والی دی. څه رنګه، چې د تشبیه دواړه اړخه محسوس دي نو تشبیه هم دصنعت په لحاظ محسوس له محسوس سره ده.
۲- محسوس د معقول سره:
دا هغه ډول تشبیه ته ویل کیږي، چې مشبه محسوس یانې په پنځوګو حواسو د حس کېدو وړ وي او مشبه به معقول یانې د حس کېدو وړ و وي ؛ لکه دا بیت:
دُر و لعل ورکول په ویړیا نه شي
بې له ما چې درته پند وایم ویړیا
(کلیات-۵مخ)
په پورته بیت کې وایي؛ چې دُر او لعل څوک وړیا او مفت ډول نه ورکوي بغیر له مانه، چې زه دُر او لعل په وړیا ډول درته وایم، یانې حمید بابا خپلې خبرې یا خپل پند د دُر او لعل سره ورته کړی، چې د ورته والي وجهه یې، لوړ قېمت درلودل، با ارزښتوب او نایابي ده، چې د حمید بابا خبرې او پند مشبه او دُر او لعل مشبه به دی او د ښایست په لحاظ تشبیه محسوس د معقول سره تشبیه ده.
دوزخي غوندې سل کاله عذابېږم
د خوبانو په یوه ګناه خطا
(کلیات- ۲۲مخ)
په پورته بیت کې شاعر د خوبانو د ظلم، زور او زیاتي څخه ژاړي او وایي، چې زه په یوه خطا او وړه ګناه باندې داسې عذابېږم؛ لکه دوزخي، چې په دوزخ کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ډېرو ګناهونو په کړنو سره عذابيږي، ځان يې د دوزخي سره ورته کړی دی، چې په خپله شاعر مشبه او محسوس دوزخي مشبه به معقول دی، نو دښايست په لحاظ د محسوس تشبيه د معقول سره ده.

پرښتې د سپي له بويه بېرته ګرځي
باري تا رقيب له ځان سره خمسور کړ
(کليات- ۲۶ مخ)

په پورته بيت کې حميد بابا هغه خبره راخيستې ده، چې ويل کيږي، د چا په کور کې چې سپی وي د هغه کور ته پرښتې ياملايکې نه راځي، دلته خپل يار ته مخاطب دی اويار ته وايي، لکه څنګه، چې پرښتې د سپي له بويه څخه تېښته کوي، نو ته څنګه د رقيب سره هم غاړې او همنوا يې، شاعر خپل يار د پرښتې سره ورته کړی، چې يار مشبه محسوس او پرښتې مشبه به معقول، چې د ورته والي وجهه يې پاک لمني، ښايست دی او په دوهمه تشبيه کې سپی مشبه محسوس او رقيب مشبه به معقول دی نو دصنعت په لحاظ د محسوس تشبيه له معقول سره ده.

فرښتې د چا په درد نه وي دردمنې
و خوبانو ته حميد پوچه زاري کا
(کليات- ۳۲مخ)

په پورته بيت کې حميد بابا د خپل عذر او زاريو څخه هم نا اميده شوی او وايي، چې پرښتې کله هم د چا په درد نه درديږي. همداسې خوبانو هم د خپل مين په درد نه پوهيږي، نو زه هسې بې ځايه خوبانو ته عذرونه کوم، دلته شاعر خوبان د پرښتو سره ورته کړي، چې د ورته والي وجهه يې نازکوالي او ښايست دی، چې خوبان مشبه محسوس، پرښتې مشبه به معقول دی، د ښايست په لحاظ تشبيه محسوس د معقول سره ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاک د نفس له مقتضي په محبت کې
یم ولاړ، لکه عاصي په عرصات
(کلیات- ۴۶ مخ)

په پورته بیت کې شاعر وایي، چې د محبت په نړۍ کې د خپل نفس د غوښتنو څخه بلکل پاک یم؛ بلکې عاصي، چې په عرصات یا محشر کې ولاړ وي، نو دلته شاعر ځان (یم) مفرد متکلم ضمیر، مشبه محسوس او عاصي مشبه به معقول ده، نو د ښایست له پلوه محسوس د معقول سره ده.

یو حمید له توره خطه شکوه نه کا
دې وبا کړ ټول عالم خراب تُراب ډېر
(کلیات-۷۷مخ)

په پورتني بیت کې حمید بابا د خپل یار د خط څخه شکایت کوي او دی وایي، چې د وبا څخه هېڅوک نه دي خلاص او دا لکه یوه عامه بلا په ټول عالم خوره وي او ټول وګړي ځینې شکایت کوي، چې خط مشبه محسوس، وبا مشبه به معقول او د دواړو ترمنځ زخمي کول، تیاره راوستل او مړه کول.... د ورته والي وجهه ده، چې د ادبي فنونو د ښایست په لحاظ تشبیه محسوس د معقول سره ده

څه ګمنامه شوه د خط په هندو بار کې
د خوبانو د ښایست مسلماني
(کلیات- مخ ۸۷)

په پورته بیت کې خط د ښایست د ورکوالي سبب ښودل شوی دی، شاعر وایي، چې د خط په تور والي او پیکه توب کې د یار ښایست ورک شوی دی، چې ښایست مشبه محسوس او مسلماني مشبه به معقول او د دغو دواړو ترمنځ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ورته والي وجهه پاکوالی او روڼ والی دی، چې د ادبي فنونو له پلوه تشبیه محسوس د معقول سره ده.

زر په زر به ظالم حسن دبُتانو
کاندی خدای توره بلا د خط نزوله
(کلیات- ۶۱مخ)

شاعر د ښکلو د ظلم او ستم څخه سرټکوي، او وایي، چې هر ظالم ته نزول شته یا هم هر کبرجن ته نسکوربدل شته، نو خدای (ج) به هم یوه ورځ دښایستوو په حسن د خط توره بلا نازله کړي او حسن به یې د ښایست له کبره نسکور شي. په پورتني بیت کې حمید بابا خط د تورې بلا سره ورته کړی، چې خط مشبه محسوس او توره بلا مشبه به معقول او د ورته والي وجهه یې اوږدوالی، توروالی او ....دی، لکه څنګه چې مشبه به په پنځوګونو حواسو نه حس کیږي تشبیه محسوس د معقول سره ده.

چې په تورو سترګو تور رانجه شي پورې
له یوې تورې بلا پاڅي سل نورې
(کلیات- ۶۶مخ)

په پورته بیت کې شاعر د خپل یار تورې سترګې بلا بللي دي او وایي، چې کله پرې تور رانجه پورې شي یا په تورو رانجو تورې شي، نو دا بلا بیا نورې بلاوې زېږوي او د سړي په زړه منګولې لګوي.

حمید بابا تورې سترګې د بلا سره ورته کړي، چې تورې سترګې مشبه محسوس او بلاوې مشبه به معقول دي او همدا رنګه د ورته والي وجهه یې خوږل او ډارول دي. او په دې اساس، چې مشبه حس کیږي او مشبه به په پنځه ګونو حواسو نه حس کیږي، نو تشبیه محسوس د معقول سره ده.

څرګندیږي په هر چین ستا د جبین کې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د قیامت د عذابونو نښانې
(کلیات- ۷۸مخ)
په پورته بیت کې شاعر، چې د خپل یار په تندي ګونځې وینې هغه د ده لپاره داسې سخته تمامیږي، چې وایي دا دقیامت د عذابونو څخه یوه نښه ده او دلته شاعر د یار په جبین باندې چین د عذاب سره ورته کړی دی، چې چین مشبه محسوس او د قیامت عذاب مشبه به معقول، همدا ډول د ورته والي وجهه یې سختي او ستونزمنتوب دی، نو څنګه چې مشبه د حس کېدو وړتیا لري او مشبه به معقول د حس کېدو وړتیا نه لري، نو تشبیه هم محسوس د معقول سره ده.

خدای دې خط د یار له مخه لري لرې
په اسلام باندې بر مه شه لاس د کفر
(کلیات- ۴۳ مخ)
په پورته بیت کې شاعر د یار له خط څخه شکایت کوي او خدای ته په زاریو دی، چې زما د یار د مخ څخه خط لرې ساتې، ځکه چې د خط له امله د یار د مخ په روښنایي باندې د کفر توره تیاره راځي.
حمید بابا په پورتني بیت کې مخ د اسلام او زلفې د کفر سره ورته کړې دي، چې مخ مشبه محسوس، اسلام مشبه به معقول او زلفې مشبه محسوس، کفر مشبه به معقول دی. د لومړۍ تشبیه ترمنځ ورته والی رڼایي او....ده او د دهمې تشبیې تر منځ ورته والی توروالی او .... دی، چې د فنونو په لحاظ تشبیه محسوس د معقول سره ده.

معقول د معقول سره:
هغه تشبیه ده، چې مشبه او مشبه به دواړه د حس کېدو وړ نه وي یانې په پنځوګونو حواسو د حس کېدو وړ وي؛ لکه دا بیت:

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ظاهر ښکلې زېبا ليده شي څه شو
په باطن توره بلا ده دا دنيا
(کليات-۳ مخ)

په پورته بيت کې شاعر دنيا په ظاهري ډول د ښکلې، زېبا سره ورته شوې، چې په مانوي يا باطني ډول يې د تورې بلا سره ورته کړې دی، ياني حميدوايي، چې د دنيا په ظاهري ښايست باندې مه غلطېږه، که په ظاهر څومره ښايسته او ښکلې ده، نو په باطن کې توره بلا ده، چې دنيا مشبه معقول او ښکلې زېبا مشبه به معقول او بله تشبيه دنيا مشبه معقول او توره بلا مشبه به معقول ده، چې د ښايست په لحاظ تشبيه معقول د معقول سره ده.

خواه نا خواخ به غم زغمي چې عاشقي کا
په دې ناوې پسې ښه سرور دی دا
(کليات- ۶ مخ)

په پورته بيت کې شاعر د عشق سره غم حتمي ښودلی او وايي، چې که څوک د عشق په لمن کې ځان غورځوي، غواړي که نه غواړي، په خوښه وي او که نا خوښه غم به مني او غم به ورڅخه خپل تور ځنځيرونه تاووي، چې شاعر عشق يا عاشقي د ناوې سره ورته کړی او غم يې د سرور سره ورته کړی، چې د عشق د کر څخه وروسته همدا سرور ياني غم يې ثمر دی، چې عاشقي مشبه معقول او ناوې مشبه به محسوس او بله يې دوهمه تشبيه ده، چې غم مشبه او سرور مشبه به معقول دی، چې د ښايست په لحاظ د معقول سره ده.

چېرته سيل د صحرا چېرته د ښکليو
چېرته روغ رمټ سرې، چېرته شيدا
(کليات- ۷ مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته بیت کې شاعر د صحرا سیل کول د روغ رمتې سړي سره ورته کړي او د ښکلیو سیل یې د شیدا سره ورته کړي، چې معقول تشبیه د معقول سره ده، دلته شاعر وایي، چې کله سړی د صحرا سیل کوي نو روغ رمتې ببرته راشي، خو د ښکلیو سیل سړي څخه زړه وباسي او خپلوي یې بیا نو سړی روغ نه وي، شیدا کیږي او چې کله سړی بې زړه شي، یانې خپل واک یې د بل چا سره شي بیا هغه روغ رمتې نه پاتې کیږي او شیدا وي.

د اشنا د هجر هسې سخت ساعت وي
لکه راشي په واته د صورت سا
(کلیات-۱۳ مخ)

په پورته بیت کې شاعر د اشنا د هجر څخه شکایت کوي او وایي، چې زما یار زما څخه ځي، نو زما څخه زما ساه هم وځي، دلته شاعران هجران د ساه وتلو سره ورته کړې ده، چې هجر مشبه د ساه وتل مشبه به او دواړه اړخه معقول دي، نو د ښایست په لحاظ معقول د معقول سره تشبیه ده.

که په نور وګړي ظلم د مغل دی
خدای غمونه کړل د ستا مغل زما
(کلیات- ۱۴مخ)

د شاعر له دې بیت څخه څرګندیږي، چې د شاعر په وخت کې د مغلو ظلمونه په پښتنو باندې وو، چې ده د خپل جانان غمونه یې د مغلو ظلمونو سره ورته کړي دي، نو دلته یو خو د مغلو ظلمونه په خپل وخت کې په خلکو باندې ښودلي او بل یې د خپل جانان د غمونو څخه، چې جانان یې له ده سره کوي، چې غم مشبه معقول او مغل مشبه به معقول دی او د تشبیه وجهه یې کړول، آزارول، او ظلم کول دي، چې د ښایست په لحاظ معقول د معقول سره تشبیه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هسې پټ په مهر قهر کې کا ښکلي
لکه څوک په کفرستان کې دینداري کا
(کلیات-۳۲مخ)

په پورته بیت کې شاعر د ښکلو په قهر کې هم مینه ګوري او وايي، چې کله ښکلي په قهر وي او د هغوی په څهره کې مهر یا مینه داسې ښکاري؛ لکه، چې په کفرستان کې څوک دینداري کوي. د ښکلو قهر مشبه معقول او کفرستان مشبه به معقول او همدا ډول مهر مشبه معقول، دینداري مشبه به معقول دی، نو دښایست په لحاظ معقول د معقول سره تشبیه ده.

د هجران له تاب او تپه الغیاث
د دوزخ له اوره ربه الغیاث
(کلیات- ۵۲ مخ)

په پورته بیت کې شاعر د هجران له اوره پناه او ساتنه غواړي او وايي، چې زما ربه له دغه اوره څخه، چې د دوزخ د اور په څېر دی ما ته خلاصون راکړه، شاعر د هجران یا هم د خپل یار څخه د لرې والي حالت د سوځېدو او کړېدو حالت ګڼلی دی، چې هجران یې د دوزخ سره ورته کړی دی، هجران مشبه معقول، دوزخ مشبه به معقول او د ورته والي وجهه یې سوځېدل، کړېدل او ازارېدل دي. دښایست په لحاظ تشبیه معقول د معقول سره ده.

د خاطر دخلیل وېره مې ترې نه شي
که په بد مې شي غماز لکه نمرود
(کلیات- ۶۵مخ)

په پورته بیت کې شاعر ځان ډېر زړور ښودلی دی، چې وايي: که غماز هر څومره زما په بدو هم شي زما د خاطر وېره ورڅخه نه کیږي، دلته شاعر خاطر د خلیل او غماز د نمرود سره ورته کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خاطر مشبه معقول، خلیل مشبه به معقول، غماز مشبه معقول او نمرود مشبه به معقول ده، نو دښایست په لحاظ داړه تشبیهات معقول دي او د تشبیه دواړه اړخه معقول دي، نو تشبیه معقول د معقول سره ده.

بېلتانه د وصل خیال راښخه خور کړ
په رمه باندې لېوه شه د موسی ګډ
(کلیات- ۶۷ مخ)

په پورته بیت کې حمید بابا وایي: چې د وصل خیال مې بېلتانه هسې راښخه یوړ؛ لکه چې په رمه باندې د موسی (ع) لېوه ګډ شوی وي، یانې په ډېرو مارانو یا هم د مارانو په رمه باندې، چې د موسی لېوه ګډ شو او هغه یې ټول وخوړل.

په پورتني بیت کې یې هجر د زورو مار سره ورته کړی دی، چې د وصل واړه ماران یې ټول وخوړل او زما له ذهن څخه د وصل خیال لاړ، یانې داسې هجر دی، چې اوس یې زه د وصل تصور هم نه شم کولای.

بېلتون مشبه معقول، دموسی لېوه مشبه به معقول، او د ورته والي وجهه یې خوړل او ختمول دي، چې دښایست په لحاظ تشبیه د معقول له معقول سره ده.

چې ناصح په ترک د عشق درته څه وایي
و دوزخ ته دې وباسي له جنته
(کلیات- ۵۴مخ)

شاعر په پورتني بیت کې عشق د جنت سره ورته کړی او بې عشقه ژوند یې د دوزخ سره ورته کړی دی، چې عشق مشبه معقول او جنت مشبه به معقول دی او دښایست په لحاظ تشبیه معقول د معقول سره ده، ځکه چې طرفین دواړه په پنځه ګونو حواسو نه حس کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتني بیت کې شاعر وايي: چې دناصح په نصیحت مه غولیږی، ځکه چې بې عشقه ژوندون دوزخ دی او نا صح مو له جنت څخه یانې د عشق له ژوندانه څخه وباسي.

غېر فکر دوزخي شه په کې سوځي
زړه مې ګرم تر سقر دی ستا له درده
(کلیات-۷۲مخ)

په پورته بیت کې حمید بابا د خپل زړه په انګړ کې د بل فکر کوزېدل سخت او ستونزمن ګڼي او وايي: چې بې ستا له فکره او درده بل هېڅ په کې نشته او که په کې پیدا شي نو د دوزخي غوندې به سوځي، چې شاعر خپل زړه د سقر سره ورته کړی، سقر هغه ځای د دوزخ دی، چې ډېر ګرم وي، نو زړه مشبه معقول او سقر مشبه به معقول دی او د تشبیه ورته والی یې ډېر ګرمتوب او...دی، نو تشبیه هم معقول د معقول سره ده.

په تمام جهان قراره قراري ده
په حمید د غم مغل راوخاته
(کلیات- ۶۳ مخ)

په پورته بیت کې حمید بابا د مغلو ظلم او زور کولو ته هم ادبي څنګزنه (اشاره) کړې ده، او وايي، چې په نوره ټوله نړۍ کې کراره کراري ده او یوازې په حمید باندې غم دی، چې حمید بابا غم د مغل سره ورته کړی دی. غم مشبه معقول، مغل مشبه به معقول او د ورته والي وجهه یې آزارول او کړول دي، نو تشبیه دښایست په لحاظ معقول د معقول سره ده.

چې له تا د وفا طمع کړم پوهېږم
بېهوده ږدم و عنقا وته دامونه
(کلیات- ۶۲مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورتني بيت کې شاعر د ښکلو ياد خپل يار څخه چې د (تا ) په واسطه يې مخاطب کړی دی د وفا هيله داسې ښودلې ده، لکه عنقا ته، چې بې له ګټې دامونه ږدې—عنقا يو داسې خيالي مارغه دی، چې چا تر اوسه پورې نه دی ليدلی، يانې د هغه نيول ناشوني دي، دلته شاعر وفا د عنقا سره او طمع يا هيله يې د دامونو سره ورته کړې ده، چې وفا مشبه معقولو عنقا مشبه به معقول او د ورته والي وجهه يې نه نيول، نه ليدل او ....دي، نو دښايست په لحاظ معقول د معقول سره تشبيه ده، ځکه، چې طرفين دواړه د حس کېدو وړتيا نه لري او دواړه معقول شول.

چېرته لپې لپې اوښکې چېرته صبر
تيمم واهه په غاړه د رود نه شي
(کليات-۸۳ مخ )

په پورته بيت کې شاعر د مينې د سوزنده نړۍ په ګرداب کې صبر کول ناشونې بللی او نه کېدونکی کار يې بللی دی، لکه چې د رود پر غاړه تيمم وهل روا نه دي، نو همداسې دي، چې د اوښکو سره صبر نه شي کېدای. دلته حميد بابا لپې لپې اوښکې د رود سره ورته کړي دي او صبر يې د تيمم سره ورته کړی دی، چې صبر مشبه معقول او تيمم مشبه به معقول، لکه څنګه چې مشبه او مشبه به دواړه اړخه سره معقول دي، تشبيه هم معقول د معقول سره ده.

په پورتني بيت کې محسوس د محسوس سره تشبيه هم شته، البته هغه په لومړنۍ تشبيه کې شته.

معقول د محسوس سره:

دا هغه ډول تشبيه ده، چې مشبه يانې هغه شی يا حال چې د بل شي يا حال سره ورته شوی وي، معقول او مشبه به چې له ده سره کوم بل شی ورته شوی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library

محسوس وي، ياني په عام عُرف سره په پنځوګونو حواسو د حس کېدو وړتيا ولري.لکه دا لاندې بيتونه:

لکه اور چې ايرې لاندې کاندې مړ شي
خاکسارۍ مې هسې ورک کړه رقيب ورو ورو
(کليات- ۴۳ مخ)

په پورته بيت کې شاعر ټولنيزو اړيکو ته هم ځنګزنه (اشاره) کړې ده، چې د خاکسارۍ له امله مورږ کولای شو، چې هر ډول ننګونه اېل کړو او تر ټولو غټ دښمن نابود کړو. نو حميد بابا هم وايي: اور چې د ايرو له امله مړ کيږي او ايرې اور لاندې کوي، همدا ډول زما خاکساري رقيب ورو ورو ورکوي او لرې کوي يې، نو خاکساري مشبه معقول، ايرې مشبه به محسوس او د ورته والي وجهه ورکول او زور دی، همدارنګه په بله تشبيه کې، رقيب مشبه معقول او اور مشبه به محسوس او د ادبي فنونو په اصطلاح سره معقول د محسوس سره تشبيه ده، ځکه، چې مشبهات په پنځه ګونو حواسو نه حس کيږي.

په زغملو مې د بدو پښېمان مه کړې
دغه زهر مې دوا کړې زما ربه
(کليات- ۵۶ مخ)

په پورتني بيت کې حميد بابا ټولنې ته مخه کړې او په ټولنه کې د سېدونکو وګړو د بدو په زغملو ځان پښېمان نه ګڼي او خپل رب ته خواست کوي، چې په همدغه زهر ما لره دوا کړې او زما لپاره يې د ثواب توښه وګرځوې.

دلته شاعر بد د زهرو سره ورته کړي، بد مشبه معقول، زهر مشبه به محسوس او د ورته والي وجهه يې زهيرول، او ازارول دي، چې د ادبي فنونو په لحاظ معقول د محسوس سره تشبيه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

که پرې ښه ایسم که بد ایسم ناصحه
خدای کړ عشق زما حمید په مخ کې زخه
(کلیات- ۶۵ مخ)

په پورته بیت کې شاعر د ناصح له نصیحتونو څخه تنګ راغلی او ورته وایي: چې ښه ښکارم او که بد عشق زما په مخ کې خدای (ج) داسې راخېژولی؛ لکه زخه، چې پر مخ راختلې وي او لرې کېدونکې نه وي، نو حمید بابا عشق د زخې سره ورته کړی، چې عشق مشبه معقول، زخه مشبه به محسوس او د ورته والي وجهه یې نه لرې کېدل او ....دی، چې د ادبي فنونو په لحاظ تشبیه معقول د محسوس سره ده.

چېرته شیخ چېرته تُندي د عشق حمیده !
چېرته جنګ چېرته بې دله آرتینه
(کلیات- ۶۶ مخ)

په پورته بیت کې حمید بابا د شیخ سره د عشق تُندي هسې ښودلې؛ لکه: په جنګ کې، چې بې زړه ښځه وي، یانې بې له تېښتې بله لار نه نیسي او شیخ هم همداسې دی، نو شاعر په خپل شعر کې شیخ د بې زړه ښځې سره ورته کړی او عشق یې د جنګ سره ورته کړی دی، چې عشق مشبه معقول، جنګ مشبه به محسوس او د ورته والي وجهه یې مړه کېدل او ....دي. نو څرنګه، چې مشبه به په پنځه ګونو حواسو حس کیږي او مشبه نه حس کیږي، نو د ادبي فنونو له پلوه تشبیه معقول د محسوس سره ده.

څوک چې غواړي کامراني په عاشقۍ کې
اشارت کاو لکه وړوکی سپوږمۍ بولي
(کلیات- ۶۹مخ)

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته بیت کې حمید بابا په عشق کې بریالیتوب ناشونی ګڼلی او څوک، چې په عشق کې بریالیتوب ، کامراني او کامیابي غواړي داسې دی، لکه چې وړوکی سپوږمۍ ته اشاره کوي او هغه ځانته رابولي، په دې بیت کې شاعر کامراني د سپوږمۍ دنیولو سره ورته کړې، چې کامراني مشبه معقول او سپوږمۍ مشبه به محسوس ده او د ورته والي وجهه یې، نه نیول کېدل او نه حاصلېدل دي، نو د ادبي فنونو له کبله په دې بیت کې د معقول تشبیه د محسوس سره ده.

په دنیا ټپرېده ډېر پکار نه دي
څه ځملې له دې بوډۍ غاړه غړۍ
(کلیات- ۸۹ مخ)

د شاعر د پورتني بیت څخه جوتیږي، چې ګواکې شاعر هم یوازې دنیا غوښتل نه خوښوي، ځکه، چې دنیا یې د بوډۍ یا زړې او سپین سرې ښځې سره ورته کړې، چې هغه د چا خبره پښې په ګور کې دي، دی وایي، چې دنیا فاني ده او یوه ورځ خو خامخا تلونکې ده او د دې سره دوستي نه ده پکار.
حمید بابا دنیا د بوډۍ سره ورته کړې، چې دنیا مشبه معقول او زړه مشبه به محسوس او د ورته والي وجهه یې ژر فناکېدل...دي، د ادبي فنونو په لحاظ تشبیه معقول د محسوس سره تشبیه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پایله

که ښه ځیر شو په رښتیا هم هر شاعر او لیکوال د خپل چاپېریال او ټولنې محصول دی، د شاعر د ټولو وارداتو او تخیلونو اخځ او مرجع د شاعر ټولنه او چاپېریال جوړوي.
د حمید بابا د کلام خوږوالی په دې کې دی، چې له هر څه ډېر په حسن مین دی. د حمید د اشعارو مضمون د مینې هغه تلپاتې موضوع جوړوي؛ کوم چې د انسان په ژوند کې حیاتي ارزښت لري.
د حمید په کلام کې هنري او ښکلاییزه خوا دومره غښتلې او پیاوړې ده، چې دی یې د پښتو ادب د آسمان لوړو مدارجو ته خېژولی دی. د ده د شاعرۍ غمی که له هر اړخه وکتل شي ځانته رنګ او ځلا لري، چې مینه والو یې د همدې ځانګړنې پر بنسټ د نازکخیالۍ پر پلاز کښېنولی دی.
د عبدالحمید ماشوخیلي (دیوان، نیرنګ عشق او دشاه او ګداه قصه) د هغه د شاعرۍ هغه نادرې ټولګې دي، چې تردې مهاله یې د نازکخیالۍ په ځلبلي بازار کې خپل شان او شوکت سل په سلو کې ساتلی دی.
د خپل ذوق او خوښې پر بنسټ مې د حمید د اشعارو له کان څخه څو لعلونه د (ماهیت په لحاظ تشبیه) په نوم راوکښل او دا تشبیه د څلورو ډولونو (محسوس تشبیه د محسوس سره، محسوس تشبیه د معقول سره، معقول تشبیه د معقول سره او معقول تشبیه د محسوس سره ) څخه جوړه شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حمید عشق د مجاز د زینې په واسطه حقیقت ته ځان رسولی دی او د شعرونو کان یې د فني ښایستونو او رنګارنګیو څخه مالامال دی، چې د حمید د نازک عشق او د هغه په شعرونو کې د فني ښایستونو او رنګارنګیو پلټل او څېړل زما په شان د یوه مبتدي لیکوال لپاره پرته د ستونزې بل څه نه دي، خپله خبره د یوه پوه په وینا راغبرګوم، چې وایي:
((څوک چې بې عیبه ملګری لټوي بې ملګري پاتې کیږي)).
زما لیکنه به خامخا عیب او نیمګړتیا ولري، ځکه چې انسان تل په خطا او سهوې کې وي، خو دومره ویلای شم، چې بې ګټې به هم نه وي البته د هغو وګړو لپاره چې دحمید دشاعرۍ سره اشنا کیږي او د حمید دشاعرۍ په خوند پوهیږي.
په پای کې د خپل لارښود ښوونکي پوهنمل جمشېد (رشیدي) څخه یوه نړۍ مننه کوم، چې ددې پایلیک په لیکلو کې یې راسره پوره مرسته کړې او په ډېره مینه یې د پایلیک لیکلو ته هڅولی یم.

په پښتنه او کلیواله مینه
رفیع الله ستانګزی
کابل نوی ښار
25/11/1385

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اخځلیکونه


1) پنهـان، حـاجي فـضل محمـد ، ادبـي ارمغـان، کنـدهار: هېـواد کلتـوري ټولنه، ۱۳۸۳ کال.

2) حبیبـي، عبـدالحی، (دپـښتوشعرد ډولونـو تاریخچـه)، کنـدهار مجلـه، دریم کال، شپږمه ګڼه.

3) حمید بابا دیوان، پېښور: څېړنه، سریزه، اوډون او وېیپانګـه، د محمـد آصف صمیم په زیار، دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۸۳ کال.

4) حمید مومند د ِدیوان علمي پروژه، کابل: سمون، سریزې، څرګنـدونو او لغتنامې سره، خپرونکې، پښتو ټولنه، ګوندي مطبعه، ۱۳۶۳ کال،.

5) رښـتین، صـدیق الله، د حمیـد بابـا دیـوان، کابـل: مقدمـه او تـصحیح، ۱۳۲۰کال،.

6) شېرزاد ، محمدآقا ، ادبي فنون، کابل: مطبعه ۱۳۸۴ کال،.

7) صمیم، محمدآصف، (دپښتو ادب تاریخ وروستي چاپ کې د یوې نوې خبرې رڼاوی)، کابل: ځولۍ مجله، لومړی کال، دوهمه ګڼه،.

8) مسلم دوست، عبدالرحیم، خوږه ژبه، پېښور: سبا کتابتون، ۱۳۷۹ کال.

9) مجروح یوسفزی، مشتاق، زرکاڼې، پېښور: تاج پرنټنګ پـرېس، ۱۹۹۸ کال.

10) واجد، عبدالواجد، ((هندي ادبي ښوونځي او پـښتو ادب)) کابـل: کابل مجله، ۱۳۸۱ کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

11) واجد ، عبدالواجد ، (( هندي ادبي ښوونځي او پښتو ادب، دوهمه برخه ))، کابل: کابل مجله، ۱۳۸۱ کال.
12) واجد ، عبدالواجد ، ((هندي ادبي ښوونځی او پښتو ادب، دریمه برخه ))، کابل: کابل مجله، ۱۳۸۱ کال.
13) هېواد مل، سرمحقق زلمی، د پښتو ادبیاتو تاریخ (لرغوني او منځنۍ دوره )، پېښور: دانش خپرندویه ټولنه، ۱۳۷۹ کال.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**